د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د اِسراف نه بچ کیدل

7 مئي 2026



اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ؕ

# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا يادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت**: **15 منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې پۀ **72 نيک اعمال** کښې د **يو نيک عمل** د **د اِسراف نه د بچ کيدو** پۀ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د قرض د ادا کولو دُعا** به يادولے شي- پۀ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي- اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم!

## د اِسراف نه بچ کيدل

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پۀ ما باندې پۀ ورځ کښې زر [1000] کرته درودِ پاک لولي هغه به د هغه وخته پورې نۀ مړ کيږي د څو پورې چې پۀ جَنَّت کښې خپل مقام وه نۀ ويني- (1)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ...الترغيب فى فضائل الاعمال، باب مختصر من صلاة...الخ، صفحه:14، حديث:19۔

# نیک عمل نمبر 49

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نیکو کولو او د ګناھونو نه د بچ کیدو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي وروڼو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د نیک عمل نمبر: 49 پهٔ باره کښې زدکړه کوو-

نیک عمل نمبر: 49 آیا نن تاسو پهٔ جومات، کور، دفتر وغیره کښې د اِسراف نه د بچ کیدو کوشش کړے؟ (مثلاً: د لائټ، پکې، بجلۍ وغیره بغیر د ضرورت نه اِستعمالول، د ضرورت نه زیاتې اوبهٔ غورځول یا توئیول)-

## د اِسراف تعریف

پهٔ غیر حق کښې لګول اِسراف دے- (1)

وضاحت: هر یو څیز بغیر د ضرورت نه بے فائدې لګولو ته اِسراف وئیلے شي- مثلاً فضول خرچي کول لکه ◈ لائټونه ◈ پکې ◈ اے سي وغیره لګیدلي پریښودل ◈ چرته چې پهٔ یو لائټ باندې کار کیږي هلته دوه یا ډیر لائټونه لګول ◈ د ضرورت نه زیاتې اوبهٔ توئیول ◈ د اِستعمال د قابلو څیزونو مثلاً پهٔ هډوکي پورې غوښه انښتې وي، بغیر د صفا کولو نه غورځول، د ډوډۍ مړګې وغیره غورځول وغیره ټول د اِسراف شکلونه دي-

---

1 ... فتاویٰ رضویه، جلد:1، صفحه:926-

# آیت مبارک

**اللّٰه** پاک فرمائيلي دي:

وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِیْنَ ﴿۱۴۱﴾

(پارہ:8، سورۃ الانعام:141)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او فضول خرچي مهٔ کوئ، بے شکه هغه فضول خرچي کوونکي نهٔ خوښوي۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

◈ څوک چې میانه روي اختیاروي، **اللّٰه** پاک هغه مالداره کوي، **څوک چې فضول خرچي کوي، اللّٰه** پاک **هغه فقیر جوړوي۔** [1] ◈ بے شکه **اللّٰه** پاک 3 کارونه نهٔ خوښوي: فضول خبرې، **مال ضائع کول** او ډېر زیات سوال کول[2] یعني بې ضرورته د خلکو نه غوښتل یا د هر شرعي حکم په باره کښې تپوس کول او عمل نهٔ کول۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د قیامت پهٔ ورځ باندې به د هر نعمت پهٔ باره کښې پوښتنه کولے شي۔ یو محتاج ګس د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ دربار کښې عرض اوکړو: یا رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آیا پهٔ ما باندې هم څهٔ نعمت شته (د کوم پهٔ باره کښې چې به زما نه پوښتنه کولے شي)؟ وه یې فرمائیل: آؤ، سورے، پیزار او یخې اوبهٔ تا سره هم شته د قیامت پهٔ

---

1… کنز العمال، کتاب الاخلاق، الاقتصاد والرفق فی المعیشة، جز:3، جلد:2، صفحه:24، حدیث:5434۔

2… بخاری، کتاب الزکاة، باب قول الله تعالی لَا یَسْـَٔلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا صفحه412، حدیث:1477۔

ورځ به د دې په باره کښې پوښتنه کولے شي- [1]

## د اِسراف په باره کښې حُکمونه

(1): اِسراف (فضول خرچي کول) مَذموم (منع) دي- [2] (2):په 2 حالتونو کښې اِسراف ناجائزه او ګناه ده: (۱): يو (دا) چې د څۀ ګناه په کار کښې لګول وي- مثلاً: په شرابو څښلو، جوارئ، سندرو سازونو کښې مال لګول (۲): بے کاره صرف مال ضائع کول- مثلاً: پاتې شوے خوراک غورځول، بغير د ضرورت نه پکے، لائټونه، نلکه وغيره پرانستې پريښودل- [4] (3): د مدرسې يا د جومات په اوبو باندې د اودس کولو په وخت ډيرې اوبۀ اِستعمالول حرام دي- [3]

## د اِسراف نقصانونه

◈ اِسراف د تنګدستئ سبب دے چې څوک د اللّٰه پاک د نعمت قدر نۀ کوي، د هغۀ نه هغه نعمت اخستلے کيږي ◈ اِسراف کول شيطاني کار دے ◈ اِسراف کوونکي ته د شيطان ورور وئيلے شوے دے- [4] ◈ اِسراف کوونکے د اللّٰه پاک خوښ نۀ دے ◈ د قيامت په ورځ باندې به د اِسراف حساب ورکول وي-

---

[1] … تفسير الدر المنثور، پاره:30، سورۀ تکاثر، زيرِ آيت:8، جلد:8، صفحه:619-

[2] … فتاوی رضويه، جلد:1، صفحه:984، بتغير قليل۔

[4] … فتاویٰ رضويه، جلد:4، صفحه:940۔

[3] … فتاوی رضويه، جلد:1، صفحه:658، ملخصًا-

[4] … پاره:15، سورۀ بنی اسرائيل، آيت:27-

## د اِسراف نه د بچ کيدو طريقې

◈ د اِسراف پهٔ انجام باندې غور اوکړئ چې د نعمت د بے قدرئ پهٔ وجه که څهٔ نعمت زمونږ نه واخستے شو نو څومره د سختۍ سره مخ کيدے شو ◈ عِلمِ دِين حاصل کړئ د پاره د دې چې د جهالت پهٔ وجه د کيدونکي اِسراف نه بچ پاتې شئ ◈ د نعمتونو قدر پهٔ زړهٔ کښې زيات کړئ او اِحساس پيدا کړئ! ځينې وخت د غفلت او بے پرواهئ پهٔ وجه د اِسراف پهٔ ګناهونو کښې خلق اخته کيږي ◈ عاجزي اِختيار کړئ ◈ مرګ ښهٔ ډير يادوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د زړهٔ نه به د دُنيا محبت لرې شي، د ګناهونو نه د بچ کيدو او نيکو د کولو ذِهن به مو جوړيږي۔

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## ايمانِ مُفَصَّل

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ
وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط

**ترجمه:** ما ايمان راوړو په اللّٰه تَعَالٰی او د هغهٔ په فرښتو او د هغهٔ په کتابونو او د هغهٔ په رسولانو او د قيامت په ورځ او په دې چې ښهٔ او بد تقدير د اللّٰه تَعَالٰی له طرفه دے او د مرګ نه پس راپاڅولو باندې.

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو

سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نـمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُوْرَةُ الِاخلاص لوستلے؟ (6):آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پۀ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا پۀ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آیا پۀ مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پۀ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ږیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا پۀ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه

غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلی نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ پهٔ ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته۔

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پهٔ وفات کيدو مو تعزيت

[لاس نیوه] کړې؟ **(62)**: آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ **(63)**: آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ **(64)**: آیا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟